
د سلسلهٔ عالیه قادریه د اتم بزرګ ذِکر

# فیضان د امام علي رضا رحمۃ اللہ علیہ

پښتو

- د ساداتو د خاندان برکتونه
- په زمکه او آسمان کښې رضا
- د امام علي رضا لس کرامات
- د امام علي رضا علمي شان



پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوت اسلامی)
ترجمو:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ،
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# فیضانِ امامِ علی رضا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ

**دُعائے عطار:** یا رَبَّ المُصطفٰی! څوک چې دا رساله "فیضانِ امام علي رضا" اولولي یا واوري، هغوئي د صحابه او اهلِ بیتو په محبت باندې ماله مال کړې او د مور و پلار او خاندان سره سره هغه بے حسابه اوبخښې.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

## د دُرُود شریف فضیلت

**د الله پاک د آخري نبي** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارك دے:** چا چې په ما باندې یو ځل دُرُودِ پاک اولوستلو الله پاک په هغه باندې لس رحمتونه لیږي.

(مسلم ، ص 172، حدیث: 912)

حضرت شیخ ابو عبدُ الله رَصَّاع رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: رحمت انعام ته وئیلے شي (د دې روایت مطلب دا دے چې) الله پاک په دُنیا او آخرت کښې بنده له پرله پسې انعامات ورکوي. قاضي ابو عبدُ الله سَکَّاکي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د الله کریم "یو رحمت" دُنیا او څه چې په دې دُنیا کښې دي د

دې نه بهتر دي نو تهٔ د دې په باره کښې څه ګمان کوې چا له چې الله کريم لس رحمتونه ورکړي، الله کريم به په لسو رحمتونو د دغه بنده نه څومره آفتونه، مصيبتونه لرې کړي او د دې لسو رحمتونو نه به څومره برکتونه حاصليږي. شيخ ابو عطاءُ الله رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: الله کريم به چې په چا باندې يو رحمت نازل فرمائي هغه به د ده د دُنيا او آخرت په ټولو معاملو کښې کفايت اوکړي نو په چا باندې چې لس رحمتونه نازل شي د هغه حالت به څه وي؟

(مطالع المسرات، ص 30)

رحمت دا دریا الٰہی ہر دم وگدا تیرا
جے اک قطرہ بخشے مینوں کم بن جاوے میرا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ساداتِ کرامو د خاندان برکتونه

د خُراسان د يو مشهور ښار نيشاپور بازار ته يو ښکلے ځلمے راغے نو په مخ باندې پرده کولو په وجه معتقدان له زيارت کولو نه محرومه پاتې شو. د دوؤ حافظانِ حديث سره سره بے شميره د علم و حديث طالب علمان په خدمت کښې حاضر شول او په ژړا ژړا ئې عرض اوکړو: يا سيدي! خپل نوراني مخ ښکاره کړئ او يو حديثِ پاک مونږ ته بيان اوفرمائي. سورلئ ئې اودروله او غلامانو ته ئې حکم اوکړو پرده لرې کړئ د خلقو سترګې د جمال مبارک په ديدن باندې يخې شوې. د سنتِ

رسول ښکلے تصویر وو، په مبارکو اوګو باندې ئې زُلفان مبارک را خواره وو. د پردې لرې کیدو سره د خلقو داسې حالت شو چې چا چغې وهلې، چا ژړل، څوک به خاورو ته ښکته کیدل نو چا به د سورلۍ نالونه ښکلول. په دې کښې علمائے کرامو آواز اوکړو: خاموشه شئ! ټول خلق خاموشه شول. حافظِ حدیث حضرت امام ابو ذُرعَه رازي او حضرت امام محمد بن اسلم طُوسي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د حدیثِ پاک روایت کولو عرض اوکړو: هغه ښکلي ځلمي د خاندانِ نبوت چراغ، د مُرتضٰی د باغ ګُل او د سیده فاطمه زهرا شهزاده د سلسهٔ قادریه رضویه عطاریه اتم پیر او مرشد حضرت امام علي رضا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ وو. د رحمت دریاب په جوش کښې راغے او هغوئي حدیثِ پاک بیانول شروع کړل:

حَدَّثَنِیۡ اَبِیۡ مُوۡسَی الۡکَاظِمِ عَنۡ اَبِیۡهِ جَعۡفَرِ الصَّادِقِ عَنۡ اَبِیۡهِ مُحَمَّدِ الۡبَاقِرِ عَنۡ اَبِیۡهِ زَیۡنِ الۡعَابِدِیۡنَ عَنۡ اَبِیۡهِ الۡحُسَیۡنِ عَنۡ اَبِیهِ عَلِیِّ بۡنِ اَبِیۡ طَالِبٍ رَضِیَ اللہُ عَنۡهُمۡ قَالَ حَدَّثَنِیۡ حَبِیۡبِیۡ وَقُرَّةُ عَیۡنِیۡ رَسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قَالَ حَدَّثَنِیۡ جِبۡرِیۡلُ قَالَ سَمِعۡتُ رَبَّ الۡعِزَّةِ یَقُوۡلُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ حِصۡنِیۡ فَمَنۡ قَالَهَا دَخَلَ حِصۡنِیۡ وَمَنۡ دَخَلَ حِصۡنِیۡ اَمِنَ مِنۡ عَذَابِیۡ

**ترجمه:** امام علي رضا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي ما ته زما والدِ محترم امام موسٰی کاظم حدیثِ پاک بیان کړو، هغوئي د خپل والدِ محترم امام جعفر صادق نه، هغوئي د خپل والدِ محترم امام محمد باقر نه، هغوئي د خپل والدِ محترم امام زَینُ العابدین نه، هغوئي د خپل والدِ محترم امامِ حُسین نه، هغوئي د خپل والدِ محترم علي بن ابي طالب رَضِیَ اللہُ عَنۡهُم نه، هغوئي فرمائي: "زما حبیب او زما د سترګو یخوالے رسولُ

الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته حديثِ پاک بيان اوفرمائيلو چې جبريل ما ته روايت بيان کړو چې ما الله پاک په دې فرمائيلو واوريدلو چې ”لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ“ زما قلعه ده، چا چې دا اووئيله هغه زما په قلعه کښې داخل شو، زما د عذاب نه په امان کښې شو.“ دا حديثِ پاک ئې چې بيان کړو نو پرده ئې پريښودله او حضرت امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشريف يوړلو، د دې حديثِ پاک ليکونکي چې اوشميرلے شول نو د 20 زرو نه زيات وو.

(الصواعق المحرقہ، ص 205)

د کروړونو حنبليانو عظيم پيشوا، حضرت امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا مبارک سَند [1] که چرې په ليوني باندې اولوستلے شي نو ضرور به هغه د ليونتوب نه شفا بيامومي.

(الصواعق المحرقہ، ص 205)

نام تيرا اشتهارِ مرض کے ليے ... نام ليوں کو تيرے دوا ہو گيا

(قبالۂ بخشش، ص 72)

## ولادت باسعادت (مقدس زيږون)

د حضرت امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ”سِيَرُ اَعلَامِ النبلا“ کښې وِلادت [پيدائش] شريف کال 148ھ بيان کړے شوے دے، په دغه کال د هغوئي د نيکه بابا جان حضرت امام جعفر صادق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دُنيا نه تشريف يوړلو.

---

[1] ... د روايتونو هغه سلسله کومه چې تر متن پورې اورسوي، هغې ته سند وئيلے شي.

(نصابِ اُصولِ حديث، ص 28)

(سیر اعلام النبلاء، 248/8) ولي په بعضي کتابونو کښې د هغوئي د زیږون کال 153ھ هم دے.

(شواهد النبوة، ص 474)

د هغوئي نوم مبارک "علي"، کُنیت "ابو الحسن" دے. د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لقبونه صابر، ذکي (یعني هوښیار) او رضا دے.

(تذکره مشائخ قادریه برکاتیه ، ص 165)

ولي يو لقب ضامن یعني ذمه وار هم دے. (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص 382)

وئیلے شوي دي چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په شپږم، اووم یا اتم شوال الْمُکَرَّم د جُمعې په ورځ په مدینه منوره کښې دُنیا ته تشریف راوړلو.

(وفیات الاعیان، 2/ 236)

## په زمکه او آسمان کښې رضا

په "شَوَاهِدُ النُّبُوَّة" کښې دي: حضرت ابي جعفر محمد بن علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائیل: الله پاک د هغوئي نوم "الرضا" کیښودو ځکه چې هغوئي په آسمانونو کښې د الله پاک رضا وو او په زمکه کښې د الله د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا وو.

(شواهد النبوة، ص 474)

## په خوب کښې د مصطفٰے ﷺ دیدن

د هغوئي مور مبارکه د هغوئي د [پلار د اړخ نه د] نیا ابئ حضرت بي بي حُمیده بَربَرِیّه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا وینزه وه، یوه شپه د حضرت بي بي حُمیده بَربَرِیّه

رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہا په خوب کښې د الله پاک د خوږ آخري نبي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زیارت نصیب شو، نو هغوئي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: د خپلې دې وینزې د خپل ځوي موسٰی کاظم سره نکاح اوکړه. الله پاک به د دې نه یو (ځوي پیدا کړي کوم چې به په ټوله زمکه والؤ کښې بهتر وي.) په زمکه کښې د ټولو نه بهتر انسان پیدا کړي.

(شواهد النبوة، ص 475)

## د پیدا کیدو سره دُعا

د هغوئي مور مبارکه فرمائي: کله چې هغوئي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ زما په ګیډه کښې وو، هغه وخت ما ته څه قِسمه بوج محسوس نه شو او د اوده کیدو په وخت به ما په خپله ګیډه کښې د سُبْحٰنَ اللہ او اَللہ اَللہ آوازونه اوریدل. په ما باندې به یو هیبت شانتې راتلو او زه به راویښه شوم نو بیا به مې څه آواز نه اوریدو. چې کله حضرت امام علي رضا رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ دُنیا ته تشریف راوړو نو هغوئي خپل مبارک لاسونه په زمکه باندې کیښودل او د آسمان طرف ته ئې مخ کړو او شونډې مبارکې ئې خوزیدلې، داسې ښکاریده چې د الله پاک په بارګاه کښې دُعا کوي.

(مسالک السالکین ، 229/1)

## په شجرۀ قادریه رضویه عطاریه کښې ذِکرِ خیر

شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت، بانـئ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا محمد الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ خپلو مریدانو او طالبینو ته

هره ورځ د لوستلو د پاره چې کومه شجره شريف ورکړې ده، په هغې کښې د امام موسیٰ کاظم، د هغوئي د ځوي حضرت امام علـی رضا او د هغوئي د والد محترم حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہِم په وسيله داسې دُعا شوې ده:

صِدقِ صادِق کا تَصَدُّق صادِقُ الْاِسلام کر بے غَضَب راضی ہو کاظِم اور رضا کے واسطے

**د دعائيه شعر مفهوم:** يا الله پاکه! تا ته د حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د رښتيا وئيلو وسيله [پيش کوو]! ما ته د ايمان سلامتيا عطا کړې او د حضرت امام موسیٰ کاظم او د هغوئي د ځوئ حضرت امام علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په وسيله بغير غضبه زما نه راضي شې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

د امام علي رضا په بارګاه کښې امام عشق و محبت، اعلٰـی حضرت، امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ عرض کوي:

ضامن ثامن رِضا بر مَن نگاہے از رضا
خشم را شایانم و گویم رِضا امداد کن

(حدائقِ بخشش،ص 331)

**ترجمه:** اے زمونږه اتم امامِ ضامنه يعني ضمانت کوونکيه! په ما باندې د خپلې رضا او خوشحالئ نظر اوکړه، زه د ستغو سپورو وئيلو حقدار يم خو زه ستاسو په خدمت کښې عرض کووم يا امام علي رضا! زما مدد اوکړه.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## عربي شجره

عظيم عاشقِ صحابه او اهلِ بيت، امام اهلِ سُنَّت اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په يوه اوګړده عربئ شجره شريف، بصيغه دُرود شريف ليکلې ده، په هغې کښې د حضرت امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ذکرِ خير څه داسې کوي:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ وَعَلَى الْمَوْلَى السَّيِّدِ الْاِمَامِ عَلِيِّ بْنِ مُوْسَى الرِّضَا رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا

ترجمه: يا الله پاکه ته په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې او په سردار او مولا امام علي بن موسیٰ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِمَا باندې دُرُود و سلام اوليږه او په هغوئي باندې برکت نازل کړه.

(تاريخِ و شرح شجرهٔ قادريہ برکاتيہ رضويہ، ص 108)

تيری نسلِ پاک ميں ہے بچہ بچہ نور کا
تُو ہے عينِ نور تيرا سب گھرانہ نور کا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## سيرت مبارك

حضرت امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير زيات ذهين او ښکلے وو. هغوئي كثيرُ الصَّوم (ډيرو زياتو روژو نيوونکے) او قليلُ النَّوم (يعني کم اوده کيدونکے) وو. په تيارهٔ شپه کښې به ئې د الله پاک په لار کښې خيرات کولو. د عاجزئ او سادګئ ئې دا حالت وو چې د ګرمئ په موسم کښې به په چټائي باندې او د يخنئ په موسم کښې به په ټاټ يا کمبل وغيره باندې

تشريف فرما کيدلو او د غلامانو سره به په يو دسترخوان بانديې کښيناستلو.

(تذکره مشائخ قادريہ رضويہ، ص 166 ملتقطاً)

## د ثواب کار ولې پريږدم؟ (واقعه)

يو سپاهي کوم چې هغوئي نه پيژندلو، هغه د هغوئي نه څه خدمت اخستل غوښتل، په دې کښې يو کَس کوم چې هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پيژندلو هغه په تيز آواز سپاهي ته غږ اوکړو او اوئې وئيل: اے انسانه! تهٔ هلاک شوې تهٔ د رسولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ځوئ بانديې خدمت کوې؟ کله چې سپاهي د هغوئي اوچت شان اوپيژندلو نو د هغوئي په ښپو کښې پريوتو او معافي ئې ترې اوغوښتله او عرض ئې اوکړو: يا سيدي! چې کله ما تاسو ته د خدمت عرض کړے وو تاسو ولې منع نه کړم؟ هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ډير ښکلے جواب ورکړو او ارشاد ئې اوفرمائيلو: ”په کوم کار کښې چې ما ته ثواب ميلاويږي زه هغه کار ولې اونکړم؟.“

(تذکرہ مشائخ قادريہ رضويہ ، ص 166 ملخصاً)

**اے عاشقانِ صحابه او اهلِ بيت!** تاسو د امامِ پاک عاجزي اوليدله؟ د ډير زيات شان و شوکت مالک لرلو باوجود هم په خدمت نه شرميدو او خومره ښکلے جواب ئې ورکړو. کاش! مونږه هم د ثواب حاصلوونکي کارونه اوکړو او د داسې کارونو، داسې ناستو پاستو نه بچ شو کوم چې د نيکئ راکوونکو کارونو نه محرومه کوي. زمونږه د خوږ پير او مرشد

حضرت امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بے شميره كرامات دي. د امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو څو كرامتونه اولولئ او په خپلو زړونو كښې د امام علي مقام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه محبت زيات كړئ.

## د "امام علي رضا" د لسو حروفو په نسبت سره لس كرامات

### (1): د زړه د خبرې نه خبر شو

د كوفې اوسيدونكي يو كس بيان دے: زه چې كله خُراسان ته د تللو د پاره د كوفې نه بهر را اووتلم نو زما جينئ ما له يوه بهترينه كپړه راكړه او اوئې وئيل: دا خرڅه كړه او زما د پاره يوه فيروزه واخله او راوړه ئې. كله چې زه مَرو نومې علاقې ته اورسيدم نو د حضرت امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خادمان زما خوا له راغلل او اوئې فرمائيل: زمونږه يو ملګرے وفات شوے دے د هغه د كفن د پاره دا كپړه په مونږه راخرڅه كړه. ما اووئيل: زما سره څه كپړه نشته. دا ئې چې واوريدل نو هغوئي لاړل خو لږ وخت پس بيا راغلل او اوئې وئيل: زمونږه آقا تا ته سلام ارشاد فرمائيلے دے او وئيلي ئې دي چې ستا سره يوه كپړه ده كومه چې ستا جينئ تا له دركړې وه د پاره د دې چې دا خرڅه كړې او د هغې د پاره فيروزه واخلې. مونږه د هغې قيمت راوړے دے. ما كپړه وركړه او د هغې نه پس مې په خپل زړه كښې سوچ اوكړو چې د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه د يو څو مسئلو پوښتنه كووم، څه جوابونه به راكوي، بيا ما يو څو مسئلے په يو كاغذ باندې اوليكلې او په بله ورځ سحر وختي د هغوئي كور

مبارک ته حاضر شوم، ډیر زیات خلق راجمع وو خو د چا څه مجال وو چې په آسانه ملاقات اوکړے شي، زه حیران او پریشانه ولاړ ووم چې د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه یو خادم بهر راغے او زما نوم ئې واخستلو او یو کاغذ ئې ما له راکړو او اوئې وئیل: اے فلانکیه! دا د سوالونو جوابونه دي. کله چې ما هغه کاغذ پرانستو او لیکل مې اولوستل نو واقعي چې زما د سوالونو جوابونه وو. (شواهد النبوة، ص 484) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (2): تیزې سیلئ تعظیم وړاندې کړو

د حضرت سَیِّدُنا علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه عادت مبارک وو چې هغوئي به کله د خلیفه مامون الرَّشید کور ته د ملاقات د پاره تشریف وړلو نو په دروازه باندې به د موجودو خادمانو د پردے لرې کولو ذمه واري وه، دې ټولو او نورو خادمانو به هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه ته هر کلے وئیلو او سلام به ئې عرض کولو بیا به ئې پرده لرې کوله د پاره د دې چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه دننه تشریف یوسي. کله چې مامون الرَّشید د ځان نه پس ولیٔ عهد امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه مقرر کړو نو د مامون بنې او کڼ اړخ ته په ناستو خلقو کښې څه داسې خلق وو په کومو چې دا ښه اونه لګیده. د دې سوچ په وجه د

هغوئي مَعَاذَ الله! د حضرت سیِّدُنا امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره زړه نالګي پیدا شوه. دې خلقو په خپل مينځ کښې مشوره اوکړه چې اوس کله حضرت سیِّدُنا امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د "خليفه" سره د ملاقات د پاره تشريف راوړي نو مونږه به مخ اړوو او د دروازو نه به پردے نه لرې کوؤ. په دې باندې ټول يو صلاح شول، اوس لا هغوئي دا مشوره کوله او ناست وو چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشريف راوړو او د خپل عادت مطابق د ملاقات د پاره دننه راتللو د دې خلقو په خپله مشوره باندې د عمل کولو همت اونشو نو ټول اودريدل، هر کلے ئې اوکړو او د دروازو نه ئې پردے هم د مخکښې په شان اوچتې کړې کله چې هغوئي دننه تشريف يوړلو نو هغوئي يو بَل ملامته کولو چې تاسو په خپلو منصوبو او مشورو باندې عمل اونکړو. بيا په دې صلاح شو چې اوس چې څه اوشو نو اوشو بيا د پاره چې کله هغوئي راځي نو مونږه بيا خامخا په خپله مشوره باندې عمل کوؤ. په دويمه ورځ چې هغوئي د عادت مطابق تشريف راوړو نو په دې ځل دوئي خو اودريدل سلام ئې هم اوکړو خو پردے ئې اوچتې نه کړې، فوراً تيزه سيلئ راغله هغې پردے اوچتې کړې او هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دننه تشريف يوړلو بيا د بهر راوتلو په وخت هم تيزې سيلئ د هغوئي په خاطر پردے اوچتې کړې. اوس دې ټولو د يو بَل مخ ته کتل او وئيل ئې " د الله کريم سره د دې ګس ډيره مرتبه ده او د هغه په ده باندې ډيره مهرباني ده، اوګورئ چې سيلئ څنګه راغله او د هغوئي د دننه تللو په وخت ئې پردے څنګه اوچتې کړې ځکه خپله مشوره پريږدئ او بيا خپله خپله ډيوټي

شروع کړئ.“ (جامع کرامات اولياء،312/2) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (3): اولس (17) کجورې

يو کَس بيان کړل چې ما په خوب کښې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت اوکړو، چې هغوئي زمونږه ښار ته تشريف راوړے دے او په کوم جُمات کښې چې حاجيان حِصار دي هلته قيام فرمائي. زه بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شوم او سلام مې عرض کړو. د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخې ته يو غټ پليټ موجود وو. په کوم کښې چې صَيحاني کجورې وې. د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې نه يو موټے کجورې ما له راکړلې. ما چې هغه اوشميرلې نو هغه (17) وې. ما ترې دا تعبير واخستلو چې زما عمر اوس اولس کاله پاتې دے، د دې واقعې نه يو څو ورځې پس ما واوريدل چې حضرت امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه جُمات ته تشريف راوړے دے نو زه فوراً د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شوم. ما هغوئي په هغه ځائے کښې تشريف فرما اوليدلو چرته چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جلوه افروز وو. د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوا ته هم هغه شان يو غټ لوښے موجود وو. زه ور وړاندې شوم او سلام مې عرض کړو

نو هغوئي د سلام جواب راکړو او زه ئي د ځان خوا ته اوغوښتم او يو موتے کجورې ئې راله راکړلې ما چې هغه اوشميرلې نو هغه هم اولس (17) اوختې ما عرض اوکړو: "اے ابنِ رسولُ الله! زما خو د دې نه زياتې کجورې پکار دي. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: که چرې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تا له د دې نه زياتې درکړے وے نو ما به هم درکړے وے. (جامع کرامات اولياء، 311/2) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

دل کی جو بات جان لے روشن ضمیر ہے

اُس مردِ با صفا کو ہمارا سلام ہو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (4) د مړ کيدو خبر ئي ورکړو

حضرت امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو کَس اوليدلو نو اوئي فرمائيل: اے د الله بنده! چې څه غوارې نو د هغې وصيت اوکړه او د کوم څيز (يعني د مرګ) نه چې نه ويريږې نو د هغه د پاره تيار شه. د دې خبرې درې ورځې شوې وې چې هغه کَس وفات شو.

(شواهد النبوة، ص 486)

## (5) د عربئ ژبې عطا کول

ابو اسماعيل سندهي نومې ګس بيان کړل چې زه د حضرت امام علي رضا رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د ملاقات د پاره حاضر شوم نو د ”اَلِف“ نه هم خبر نه ووم ما هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ته په سندهئ کښې سلام اوکړو هغوئي هم ما له په سندهئ کښې جواب راکړو. د دې نه پس ما په خپله ژبه کښې ښه ډيرې پوښتنې اوکړې هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د ټولو سوالونو جواب زما په ژبه کښې راکړو. بيا ما د واپس راتللو په وخت عرض اوکړو: حُضُور! زه په عربئ نه پوهيږم. تاسو دُعا اوکړئ چې زه په عربئ وئيلو پوهه شم. هغوئي خپل لاس مبارک زما په شونډو باندې راښکل نو ما هم هغه وخت په عربئ کښې خبرې شروع کړې. (شواهد النبوة، ص 487) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (6): د مرغئ فرياد ئې واوريدو

يو صاحب بيانوي: ما يوه ورځ د حضرت امام علي رضا رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ سره په يو باغ کښې خبرې کولې چې ناڅاپه يوه مرغئ راغله او په زمکه راپريوتله او د پريشانئ په حالت کښې ئې فرياد شروع کړو. حضرت امام علي رضا رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ چې دا اوليدل نو اوئې فرمائيل: اے انسانه تا ته

پته ده چې مرغۍ څه اووئيل؟ ما عرض اوکړو: الله پاک او د هغه رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم او ابنِ رسول الله ته د دې علم دے. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: مرغۍ وائي چې د دې کور [يعني جالي] ته يو مار راغلے دے کوم چې د دې بچي خوړل غواړي. بيا هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ما ته اوفرمائيل: لاړ شه! او هغه مار مړ کړه. زه لاړم اومې اوکتل نو واقعي مار موجود وو. ما چې هغه څنګه اوليدلو نو په عصا [يعني اَمسا] مې مړ کړو.

(شواهد النبوة، ص 488)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (7): دوه بچي پيدا شول

بکر بن صالح وائي: زه د حضرت امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوا ته حاضر شوم او عرض مې اوکړو: زما بي بي په اُمِّيد سره وه [يعني د بچو ناروغه وه]، د الله پاک په بارګاه کښې دُعا اوکړئ چې هلک راته عطا کړي. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل د هغې په ګېډه کښې دوه ماشومان دي. چې کله هغه پيدا شي نو د يو نوم محمد او د بَل نوم اُمِّ عَمر کيږده. بکر بن صالح وائي: زه کوفې ته راغلم. لکه څنګه چې امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائيلي وو هم هغه شان زما دوه بچي پيدا شول. يو هلک او بَله جينۍ، ما د هلک نوم محمد او د جينۍ نوم "اُمِّ عَمرو" کيښودو.

(جامع كرامات اولياء، 313/2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (8): د لمُونځ په برکت سره د قرض ادائيګي

د نبوت د خاندان ځليدونکے ګل حضرت امام علي رضا رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه يو ځل ډير قرضدارے شو. قرضدارو د قرض تقاضا شروع کړله نو هغوئي ټول قرضداري را اوبلل او چټائي ئې اوغوړوله او دوه رکعته لمُونځ ئې ادا کړو. بيا ئې د هغه چټائې د لاندې نه قرض دارو له قرض ورکول شروع کړو نو تقريباً اته څلويښت (48) زره ديناره قرض ئې ادا کړو.

(مسالک السالکين، 232/1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (9): ژوندے مړ شو

يو ځل څه خلقو مَعَاذَ الله! د امتحان اخستلو په غلط نِيَّت سره يو ژوندے کَس د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه خوا له راوړلو چې دے مړ دے چې تاسو ئې جنازه اوکړئ. چې هغوئي ئې جنازه اوکړي نو دا مړے به راپاڅي او هغوئي به اوشرميږي. چې کله هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه لمُونځ اوکړو او هغوئي ترې څادر لرې کړو نو هغه کَس ئې مړ اوموندلو نو په خپلو کړو ډير اوشرميدل. آخر په ژړا انکولا هغوئي خپل مړے خخ کړو چې کله درے ورځې تيرې شوې نو هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د هغه مړي د قبر خوا له تشريف يوړو او اوئې فرمائيل: قُمْ بِإِذْنِ الله يعني د الله په حکم سره ژوندے شه. نو هم هغه وخت هغه مړے ژوندے شو.

(مسالك السالكين، 1/ 232 )

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (10): د وفات کیدو نه مخکښې ئې اووئیل

یو صاحب بیانوي: زه د ابو الحسن علي رضا رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ سره په مِنٰی کښې ووم چې د خلیفه هارونُ الرَّشید وزیر "خالد برمکي" په هغه ځائے تیر شو. هغه د دوړو په وجه خپل مخ په رومال کښې پټ کړے وو. حضرت امام علي رضا رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ چې هغه ته اوکتل نو اوئې فرمائیل: دا مسکینان خلق نه پوهیږي چې په دې کال د دوئي سره څه کیدونکي دي؟ د دوئي کار چې څه کیږي، کیږي به. بیا ئې اوفرمائیل: د دې نه هم زیاته د حیرانتیا خبره دا ده چې زه او هارون الرَّشید د دوؤ ګوتو په شان یو. هغوئي د شهادت ګوته او مینځنۍ ګوته یو ځائے کړلې او اوئې فرمائیل. د دې واقعې بیانوونکے وائي: په اللّٰه پاک مې دې قسم وي! زه د جناب علي رضا رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د هارون الرَّشید په باره کښې په خبره هغه وخت پوهه شوم چې کله هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ وفات شول او هغوئي د هارون الرَّشید سره په خوا کښې خخ کړے شول.

(جامع کرامات اولیاء، 313/2)

اور جتنے ہیں شہزادے اس شاہ کے
ان سب اہلِ مَکانَت پہ لاکھوں سلام
اُن کی بالا شرافت پہ اعلیٰ درود
ان کی والا سِیادت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش، ص 314)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د پوهې او حکمت علم

الله پاک حضرت امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه له ډېر علمي شان و شوکت ورکړے وو. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به اکثر د سوالونو جوابونه د قرآن د آيتونو نه ورکول. ابراهيم بن عباس وائي: ما د هغوئي نه بَل لوئے عالم نه وو ليدلے. خليفه مامونُ الرَّشيد به اکثر د امتحان په طور د هغوئي نه پوښتنې کولې [يعني تپوسونه کول] او هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به هغوئي ته په زړه پورې جوابونه عطا کول.

(تذکره مشائخِ قادريه رضويه ، ص 166)

وئيلے شي چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د کروړونو مالکيانو د عظيم پيشوا، امام مالک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په زمانه کښې په ځوانئ کښې فتاویٰ يعني د شرعي مسئلو جوابونه ورکول.

(سير اعلام النبلاء، 248/8)

مامونُ الرَّشيد به هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته په ډېره درنه سترګه کتل ځکه هغوئي د خپلې لور نکاح د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره اوکړه.

(الصواعق المحرقہ، ص 204)

## د عاجزئ نه ډکه دُعا

ابو صَلت وائي: ما حضرت علي بن موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په موقِف باندې په دې دُعا کولو واوريدلو:

**اے الله پاکه!** لکه څنګه چې تا زه د خپل رحمت په څادر کښې پټ کړم د کوم چې ما ته پته نشته هم داسې تهٔ ما اوبخښه په کومې چې تهٔ پوهیږې او لکه څنګه چې تا ما له فراخه عِلم راکړے دے هم داسې ما ته خپله فراخه بخښنه اوکړه، او لکه څنګه چې تا ما ته خپل معرفت او پیژندګلو عطا کولو سره بزرګي راکړي ده هم داسې د هغې سره خپل مغفرت هم یو ځائے کړه اے **ذُوالجلال والاکرام!**.

(سير اعلام النبلاء، 249/8)

## د رازونو نه ډک کتابونه

حضرت علامه سَیِّد شریف رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: د مسلمانانو د څلورم خلیفه عَلِـیُّ المُرتضٰـی شیرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دوه کتابونه جفروجامعه[1] دي، هغوئي په دې دواړو کتابونو کښې د عِلمُ الحُروف په لار باندې د دُنیا تر ختمیدو پورې چې څومره هم واقعات کیدونکي دي هغه ټول بیان اوفرمائیل. د هغوئي په پاک اولاد کښې مشهور امامان د دې کتابونو په

[1]... اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: جفر بے شکه ډیر نفیس جائز فن دے، د حضرات اهلِ بیت کرام رِضوانُ اللهِ علیهم عِلم دے امیر المُؤمنین مولا علی كَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ الكريم په خپلو خاصانو باندې د دې اظهار اوفرمائیلو او سَیِّدُنا امام جعفر صادق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دا په لیکلې شکل کښې راوړو[یعني دا علم ئې اولیکلو]، کتابِ مستطاب جفر ئې جامع تصنیف اوفرمائیلو- علامه سید شریف رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په شرح مواقف کښې فرمائي: امام جعفر صادق په جامع کښې ما کان و مایکون اولیکلو.
(فتاویٰ رضویه، 697/23)

رازونو پوهیږي او د دې نه احکام بیانوي، کله چې مامونُ الرَّشید د حضرت امام علي رضا بن امام موسٰی کاظم (رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهما) د ځان نه پس د خلیفه مقرر کولو خلافت نامه اولیکله نو امام علي رضا رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه هغه قبوله کړه او په جوابي خط کښې ئې اولیکل: تا زمونږه حق اوپیژندلو، ځکه زه ستا خلافت قبلووم، خو جفر و جامعه وائي چې دا کار به نه پوره کیږي. (نو هم دغسې اوشول او هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د مامونُ الرَّشید په ژوند کښې شهادت بیاموندو).

(شرح مواقف، 6 /23)

## آمنه رملیه بنتِ موسٰی کاظم (رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهما)

اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بیت! د اهلِ بیتِ نبوت دا مبارک خاندان د کراماتو او وِلایت چینه وه. د حضرت امام علي رضا رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه خور حضرت بي بي آمنه رملیه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْها په خدمت کښې د حنبلیانو عظیم پیشوا حضرت امام احمد بن حنبل رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د بِشرِ حافي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په ذریعه د دُعا خواست اوکړو نو هغې رَحْمَةُاللهِ عَلَيْها داسې دُعا اوکړه: یا الله پاکه! بِشرِ حافي او احمد بن حنبل (رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهما) د دوزخ د عذاب نه په اَمان کړې. د امام احمد بن حنبل رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بیان دے چې په هغه شپه یوه چیټئ د آسمان نه زمونږ په کور کښې راپریوتله په کومه کښې چې د بِسۡمِ الله نه پس دا لیکلي وو چې "مونږه بِشرِ حافي او احمد بن حنبل له د دوزخ د عذاب نه اَمان ورکړو او زمونږ سره د دې دوارو د پاره نور نعمتونه هم دي." (جامع کرامات اولیاء،

384/1 ملخصاً) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مونږه حرام نه قبلوؤ

حضرت علامه يوسف بن اسماعيل نبهاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: د حضرت بي بي آمنه بنت سيدنا امام موسٰی کاظم (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِمَا) د قبر د خوا نه به د شپې د قرآنِ پاک د تلاوت آواز راتللو. يو ځل يو کَس د دربار خادم له د زيتون څه تيل راوړل او د خادم نه ئې لوظ واخستلو چې دا ټول تيل په يوه شپه کښې اوسوزوه، خادم په قنديلونو کښې تيل واچول او سوزول ئې غوښتل خو اور نه بليدو، خادم ډير حيران شو، چې اوده شو نو حضرت بي بي آمنه بنت سيدنا امام موسٰی کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِمَا په خوب کښې تشريف راوړلو او ارشاد ئې اوفرمائيلو: هغه له تيل واپس ورکړه، ځکه چې مونږه صرف پاک او حلال مال قبلوؤ، د هغه نه پوښتنه اوکړه چې دا تيل ئې د کوم ځائے نه راوړي دي؟ چې سحر شو نو خادم د تيلو راوړونکي خوا له لاړو او هغه ته ئې اووئيل چې خپل تيل واپس واخله، هغه اووئيل ولې؟ خادم جواب ورکړو دا اور نه اخلي او حضرت بي بي آمنه بنت سيدنا امام موسٰی کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِمَا ما ته په خوب کښې حکم اوفرمائيلو چې مونږه صرف پاک مال

قبلوؤ، تيل راوړونکي خادم ته اووئيل: حضرت بي بي آمنه بنت سيدنا امام موسٰى کاظم (رَحْمَةُاللهِ عَلَيْها) صحيح فرمائي، زه کاهِن (يعني د پيريانو نه د معلومولو سره خبرونه ورکوونکے) يم، بيا هغه تيل واخستل او بيرته لاړلو.

(جامع کرامات اولياء ، 384/1 ملخصاً)

## غيرِ سيد پير کيدے شي؟

خوږ‌و او محترمو اسلامي ورونړو! د بعضې خلقو دا خيال وي چې صِرف آلِ رسول يعني ساداتِ کرام پير کيدے شي، غير سيد پير نشي کيدے. دا خيال صحيح نه دے. اعلٰی حضرت، امام اهلِسُنَّت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: (د پير کيدو د پاره سيِّد او آلِ رسول کيدل ضروري ګڼل) دا صرف باطل دي، د پير کيدو د پاره هم هغه څلور شرطونه[1] پکار دي، د ساداتِ کرامو نه [پير] کيدل څه ضروري نه دي. آؤ! که د دې شرطونو سره سيِّد هم وي نو نُورٌعلٰی نُور. باقي دا ضروري شرط ګرځول د ټولو طريقت د سلسلو باطل کول دي. په سلسلهٔ عاليه قادريه سِلسِةُ الذَّهب (يعني په ښکلې سلسله)

---

[1] ... (1) صحيح العقيده سنّي وي (2) دومره عِلم ورسره وي چې د خپلو ضرورتونو مسئلے د کتابونو نه راويستے شي (3) فاسقِ معلن نه وي (يو ځل ګناهِ کبيره کوونکے يا په ګناه صغيره باندې اصرار کوونکے يعني درې يا د دې نه زيات ځله کوونکے يا د صغيره، صغيره ګڼلو سره يو ځل کوونکے فاسق وي او که چرې ښکاره ئې اوکړي نو فاسق ملعن دے) (4) د هغه سلسلهٔ بيعت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره مُتَّصِل لګيدلې وي. (فتاوٰى رضويه، 603/21)

کښبې چې د سیِّدُنا امام علي رضا او د حضور سیِّدُنا غوثِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُما ترمينځه څومره هم حضرات دي څوک هم د ساداتِ کرامو نه نهٔ دي او په سلسلهٔ عاليه چشتيه کښې خو د اَميرُ المُؤمِنِين مولا علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه پس امام حسن بصري (رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه) دے چې نه سیِّد نه قریشي نه عربي دے او سلسلهٔ عاليه نقشبنديه خو د حضور سیِّدُنا صدِيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه شروع شوې ده، دغه شان نورې سلسلے هم دي.

(فتاوٰی رضويه، 576/26)

مِلا سلسلہ قادِری فضلِ رب سے　　میں ہوں کس قدر بختور غوثِ اعظم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب　　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

اے عاشقانِ امام علي رضا! اللّٰه پاک حضرت امام علي رضا رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه ته ډير مقبوليت عطا کړو. د هغوئي د نيکئ د دعوت سره بے شميره کافران مسلمانان شول. د سلسلهٔ قادريه عظيم بزرګ او د هغوئي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه خليفه حضرت سيدنا معروف کرخي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هم د هغوئي په دعوت باندې مسلمان شو او د ولايت لوئے مقام ته اورسيدو.

(شرح شجرهٔ قادريه رضويه عطاريه، ص 64)

## زه شان نشم بيانولے

د عرب مشهور شاعر ابو نواس ته چا اووئيل چې تهٔ د حضرت امام موسٰی کاظم رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه د شهزاده حضرت امام علي رضا رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه په باره

کښې څه شعرونه ولې نه وائې؟ ابو نواس د هغوئې رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه په اوچت شان کښې تعريفي شعرونه وړاندې کړل او عرض ئې اوکړو:

قُلْتُ لَا اَسْتَطِيْعُ مَدْحَ اِمامٍ

كَانَ جِبْرِيْلُ خَادِماً لِاَبِيْهِ

يعنې زه د حضرت امام علي رضا رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه شان او عظمت څنګه بيانولے شم چې د فرښتو سردار حضرت جبرائيل عَلَیْهِ السَّلَام د هغوئې د والدِ محترم (يعنې زمونږه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ) خادم دے.

(وفيات الاعيان، 237/2)

## اولاد مبارک

د هغوئې رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه پينځه ځامن او يوه لور وه. د هغوئې مبارک نومونه دا دي: حضرت امام تقي، جعفر، حسن، حسين، ابراهيم رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْهِم او د شهزادګۍ نوم مبارک ئې عائشه رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْهَا وه.

(مسالک السالکين،235/1)

## د ذليله دُنيا محبت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دُنيا مينه ړنده وي، د دې خرابې دُنيا په عشق کښې مست يو بدبخته [انسان] سَيِّدُ الاسخيا، راكِبِ دوشِ مُصطفٰی، د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمسي حضرت سيِّدُنا امام حسن مجتبٰی رَضِیَ اللہُ عَنْهُ له څو څو ځله زهر ورکړل او آخِر زهر خوراک ئې د وفات سبب جوړ شو. هم دارنګه حضرت سيِّدُنا بِشر بن بَرَاء رَضِیَ اللہُ عَنْهُ، حضرت سيِّدُنا

امام جعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه، حضرت سیِّدُنا امام موسٰی کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه، حضرت سیِّدُنا امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهاو حضرت سیِّدُنا امامِ اعظم ابو حنیفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم د دې زهرو په سبب سره وفات شول.

(عاشقِ اکبر، ص 42)

## د دفن کیدو ځائے ئې اوښودلو

د یو کَس بیان دے: ما حضرت امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهپه مدینه منوره کښې اولیدلو. په جُمات کښې هارونُ الرَّشید خطبه ورکوله. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهاوفرمائیل: ما او دا (هارون) به تاسو وینئ چې په یو کور کښې به مونږه دواړه دفن کولے شي. دغه شان یو ځل هارونُ الرَّشید د مسجدِ حرام نه په یوه دروازه بهر راغے او حضرت امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهپه بَله دروازه بهر تشریف راوړو او اوئې فرمائیل: اے هغه انسانه! کوم چې د کور په لحاظ سره زما نه لرې دے خو زما او ستا ملاقات هم په یو ځائے کښې دے. بے شکه طوس به ما او تا دواړه په یو ځائے کښې جمع کړي.

(جامع کرامات اولیا، 312/2)

## د مرګ په وخت ئې خوراک اوښودلو

د اهلِ بیتِ نبوّت چشم وچراغ حضرت امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهد خپل وفات شریف نه مخکښې اوفرمائیل: زه به د وفات کیدو نه مخکښې انګور [یعني کوَر] او انار خورم. بیا هم داسې اوشول. (جامع کراماتِ اولیاء، 311/2) د بعضې روایتونو مطابق په 21 رَمَضَانُ الْمُبَارَک 203ھ د 55 کالو په عمر

کبني حضرت امام علي رضا رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته په انګورو کبني زهر ورکړے شول په کومې چې هغوئي شهيد کړے شو. د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مزار شريف په مشهد مقدس نومې ځائے کبني په ايران کبني دے.


(تہذيب الكمال، 152/21. تذکره مشائخِ قادريه رضويه، ص175 )

جس مسلماں نے دیکھا اُنہیں اِک نظر
اس نظر کی بَصارت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش، ص 313)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د راتلونکې هفتې رساله





عالمي مدني مرکز فيضان مدينه محله سوداګران پراڼي سبزي منډي کراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net